# سُوْرَةُ

# یسٓ

## پښتو منظومه ترجمه

مترجم

مولانا احمد علی مردانی
فاضل جامعه بنوری ٹاؤن کراچی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بِسۡمِ اللّٰهِ | له نامې شورو کوُمه دالله نه |
| الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | رحم کولُو والا ، زيات دے مهربانه |
| يٰسٓ ● وَالۡقُرۡاٰنِ الۡحَكِيۡمِ ● | اے يٰسينه ! په قراٰن ( زما ) قسم دے |
| اِنَّكَ لَمِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ● | رسولانو کښې ستا ذات ( ددې عالَم ) دے |
| عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ● | داسې لار باندې ئې ده ښهٔ برابره |
| تَنۡزِيۡلَ الۡعَزِيۡزِ الرَّحِيۡمِ ● | نازل کړې ده عزيز رحيم (بهتره |
| لِتُنۡذِرَ قَوۡمًا | دې دَپاره هغه قوم کړې خبردار |
| مَّاۤ اُنۡذِرَ اٰبَآؤُهُمۡ | چې ئې نه دې يريدلې ،نيکهٔ پلار |
| فَهُمۡ | هغه تول په جمع ( دلته په هر در |
| غٰفِلُوۡنَ ● | غافلان دی ( تول اُودهٔ له ربّ اکبر) |
| لَقَدۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ | پوره شوې حکم اَمر ( دَ مولا) دے |
| عَلٰۤى اَكۡثَرِهِمۡ | په اکثرو زياتو خلقو ( داسې دا دے) |
| فَهُمۡ | نو دوی څومره چې دی ( دلته په جهان |
| لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ● | قبلؤنکی نه دی يو هم دَايمان |
| اِنَّا جَعَلۡنَا فِىۡۤ اَعۡنَاقِهِمۡ اَغۡلٰلًا | په څټونو کښې مونږ طوق دوی له اچولے |
| فَهِىَ اِلَى الۡاَذۡقَانِ فَهُمۡ مُّقۡمَحُوۡنَ ● | دا ترڅنو، نوسرنهٔ شی خکته کولے |
| وَجَعَلۡنَا مِنۡۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ سَدًّا | اوديوال کړهٔ ، مونږ ئې مخې ته تيار |
| وَّمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدًّا | اوشته روستو(بل )ديوال ئې دَحصار |
| فَاَغۡشَيۡنٰهُمۡ | مونږه دوی کړل ، په پرده کښې سراسر |
| فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُوۡنَ ● | نو دوی نهٔ دی څهٔ ليدونکی په نظر |
| وَسَوَآءٌ | ( اے رسوله ! ﷺ ستا دَ پاره ) برابر دی |
| عَلَيۡهِمۡ ءَاَنۡذَرۡتَهُمۡ | يروُل دا( کفاران چې ستا په در دی) |
| اَمۡ لَمۡ تُنۡذِرۡهُمۡ | نهٔ يروُل ( چې له ازله دی منکره) |
| لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ● | نه راوړونکی دَ ايمان دی ( پيغمبره ﷺ!) |
| اِنَّمَا تُنۡذِرُ | بيشک ته شے يرولې ( په جهان) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ | پيروي چې كړي دَ ذكر كوم انسان |
| وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ | او رحمٰن نه پټ په پټه ښۀ يريږي |
| فَبَشِّرْهُ | زيرې وركړۀ ورته (داسې چې جوړيږي) |
| بِمَغْفِرَةٍ | دَ بخشش (په هر مقام) دَ مغفرت |
| وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ● | اوثواب (ورله هم شته ډير) دَعزت |
| اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى | بس يُو مونږ ژوندې كوُنكې هريو مړے |
| وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا | اوليكوُنكې يوُ، چې دُوى دي مخكښې كړے |
| وَاٰثَارَهُمْ | اوتهول وروستو، دَدُوى پاتې هر اثر |
| وَكُلَّ شَيْءٍ | او (هم دغه رنګې) هر څيز برابر |
| اَحْصَيْنٰهُ | مونږ هغه هرڅۀ شميرلى (په حساب كښې) |
| فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ● | (محفوظ هغه تهول دى) ښه ښكاره كتاب كښې |
| وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ | مثال وركړه دَهغوى چې وو دكلى |
| اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ● | چې هغوى ته كله راغلل ورليږلى |
| اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ | دُوى ته مونږ، چې اُوليږل، هغه ساعت |
| اثْنَيْنِ | دوه كسان (پيغمبران دَهدايت) |
| فَكَذَّبُوْهُمَا | نو دُوى اُكنهل، بيا دواړه دروغژن |
| فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ | مونږ طاقت ورله بيا، وركړۀ پۀ دريم تن |
| فَقَالُوْآ | تهول په جمع شول ګويا (په دې بيان) |
| اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ● | تاسو ته يُو، راليږلى رسولان |
| قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا | شول ګويا چې تاسو ئې زمونږ په شان |
| - - - - - - - - - | لکه څنګه چې مونږ يُو تهول انسانان |
| وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ | اوڅۀ نۀ دي نازل كړي ذات رحمن |
| اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ● | تاسو تهول ئې دروغژن په (خپل) بيان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| قَالُوْا رَبُّنَا | شول گويا، چې زمونږ رب پروردیګار |
| يَعْلَمُ | (دَهر څه نه) ، هغه ښه دې، خبردار |
| اِنَّآ اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ● | دا چې مونږ یو تاسو ته پیغمبران |
| وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ● | اوپه مونږدی رَسوُول رښا بیان |
| قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ | هغوی اُووې چې ئې تاسو ،مونږ له بد |
| لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا | اوکڼۀ منې چرته نشوې(دَخپل حد) |
| لَنَرْجُمَنَّكُمْ | مونږ به تاسوکړو په کانو ،تهول ختم |
| وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ● | اوعذاب کښې به راګیرشې دَاَلَمْ |
| قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ | هغوی اُووې ،چې په خپله ،تهول ئې بد |
| اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ | وُلې شوې نصیحت (ددې حسد)؟ |
| بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ● | بلکه تاسو خلق اُوتی ئې دَحد نه |
| وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ | اویو کس راغې د ښار طَرف سرحد نه |
| يَّسْعٰى قَالَ | ښه په منډه منډه ،(دا ئې)کړۀ بیان |
| يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ● | اُومنې ،قومازما ! پیغمبران |
| اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْئَلُكُمْ اَجْرًا | اُومنې ، ستاسو نه غواړی نه قیمت |
| وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ● | او دُوی دی ،په نیغه لار،دَهدایت |
| وَمَا لِيَ لَآ اَعْبُدُ | اوزۀ وُلې به ئې نۀ کړم عبادت |
| الَّذِيْ فَطَرَنِيْ | پیدا کړې ئې زما وجود صورت |
| وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ● | او اٰخر واپس کیدل دی ورته بیا |
| ءَاَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً | پس له دې نه بل څنګ اُنیوم اٰله |
| اِنْ يُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ | که رحمٰن راکوی ماته څۀ نقصان |
| لَّا تُغْنِ عَنِّيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا | نه راکوی فائده ماله ئې بیان |
| وَّلَا يُنْقِذُوْنِ ● | اونه ما شی خلاصولې ( په قیامت کښې) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| إِنِّيٓ إِذًا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ● | نو زه شم به ښه ښکاره په ضلالت کښې |
| إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ | ماراوړي دے، په ربّ ستاسو ايمان |
| فَٱسۡمَعُونِ ● | نو زما خبره واورئ (په ښۀ شان) |
| قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَ | حُکم اُشُولو داخل شه په جنت کښې |
| قَالَ يَٰلَيۡتَ | په افسوس سره ګويا شو (دې راحت کښې) |
| قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ● | زما قوم ته (چې) معلوم شی دا خبر |
| بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي | په څه وجه خپل ربّ معاف کړم سراسر |
| وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ● | اوپښ دلښ کس ے، شمار کرم، دَعزت |
| وَمَآ أَنزَلۡنَا | اونښ مونږښ دے ليرلے، (حښ طاقت) |
| عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ | هغے قوم تښ پس، ددغے نښ لسکر |
| مِّنَ ٱلسَّمَآءِ | دَاسمانښ (راليرلے برابر) |
| وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ● | اونه مونږ يُو راليږونکی (دغه شان) |
| إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ● | په يَو چغه، باندې مړه شول (ټول کسان) |
| يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ | ډير افسوس دے (ډير افسوس) په بنديګانو |
| مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا | ورته راغے چې رسول (له رسولانو) |
| كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ● | ټوقې دُوی به ورپورې کوله خندا |
| أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا | دُوی نه ګوری، چې مونږ، څومره کړل تباه |
| قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ | مخکښې دُوی نه، خلق ډير (په دې دُنيا) |
| أَنَّهُمۡ إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ● | هيڅ کله ورته راتلے نشی دُوی بيا |
| وَإِن كُلّٞ لَّمَّا | او هر څه چې (دلته) ټول دی سراسر |
| جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ● | جمع کيږی به دُوی ټول زمونږ په در |
| وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ | اويونخه دُوی له زمکه (دَا دنيا) |
| ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا | ژمدې کړې هغې مړې له ده مونږ بيا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا | او راوېستې مونږ له هغې نه،دانې دي |
| فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ● | بيا له هغې نه خوراك كوي(غلې دي) |
| وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ | اومونږ په كښې جوړ كړې دي باغونه |
| مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ | دكهجورو او،انګورودي (فصلونه |
| وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ● | اوپه كښې رواني كړې مونږ چينې دي |
| لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ | دَخوراك دَپاره دُوى له ئې ميوې دي |
| وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ | او نۀ دُوى په خپله كړې په كښې كار |
| اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ● | وُلې نۀ جوړېږى دُوى شكرګُزار |
| سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا | پاك دے ذات ،چې ئې كړل ټول جوړه پيدا |
| مِمَّا تُنْبِتُ الْاَرْضُ | هغه هرڅه چې راخيژي ،په دُنيا |
| وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ | اوهم دُوى نه پيداشوې برابر |
| وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ● | هم هغه هر څه چې دُوى نۀ دي خبر |
| وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ | اويونخه دُوى له شپه ده (دَجهان) |
| نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ | مونږ راخكو هغې نه ورځ په داسې شان |
| فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ● | پس تياره شي ټوله ،دُوى ته په نظر |
| وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا | اوپه خپل لارې روان داسې دې نمر |
| ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ● | دعزيز عليم نه ،دادے مقرر |
| وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ | اوسپوږمۍ له مونږ جوړكړې بيل بيل در |
| حَتّٰى عَادَ ● | شي واپس (هغه نه جوړه شي وړه) |
| كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ | دكهجورې څنګ چې څانګه وى زړه |
| لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ | نه كيدې شي ،چې كړى نمر، سپوږمۍ رالاندے |
| وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ | اونه شپه به شي دَورځ نه كله باندے |
| وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ | اوهر يو دے دائره كښې د اسمان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| يَسْمَعُوْنَ ● | ښهٔ لانبو وهونكى دى(په ښكلى شان) |
| وَاٰيَةٌ لَّهُمْ | او شته دُوى تهولو له نخه يو نشان |
| اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ | مونږ سواره كړل ددُوى تهولو ماشومان |
| فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ● | په كشتې كښې چې وه ډكه (په ښهٔ شان) |
| وَخَلَقْنَا لَهُمْ | او پيدا كړل مونږه دوى له ( په جهان) |
| مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ● | داسې ، دوى كوى تهول هغې كښې سفر |
| وَاِنْ نَّشَاْ | او كهٔ اُغښتهٔ حُكم مونږ(دا اَمر) |
| نُغْرِقْهُمْ | دُوى به مونږ كړو (دغه رنګ) تباه برباد |
| فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ | او ريدُونكې به ئې نه وى دَفرياد |
| وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ● | او نه څوك به دَخلاصى لرى قدرت |
| اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا | بس (بچ كيږى به ) زمونږه په رحمت |
| وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ● | او فائده څه قدرې ده د لږ ساعت |
| وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ | او چې دُوى ته شى وينا (دَنصيحت ) |
| اتَّقُوْا | جوړ شے(تهول ښه متقيان) ښه پرهيزګار |
| مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ | دَخپل مخكښې نه او وروستو(دَهركار) |
| لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ● | چې په تاسو رحم اُوشى ( له رحمان) |
| وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ | او نه دوى ته دې راغلې څهٔ نشان |
| مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ | نشانونو كښې څهٔ دُوى ته دَخپل رب |
| اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ● | مخ به دوى ترې اړولو(بې سبب) |
| وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ | او چې كله ورته اُوشى څهٔ وينا |
| اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ | خرچ له هغې كړئ دركړې چې اللّٰه |
| قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا | كافران خلق كوى داسې بيان |
| لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا | هغې خلقو ته چې څوك لرى ايمان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| اَنُطْعِمُ مَنْ | مونږه ورکړو هغې چاته څه خوراك |
| لَّوْ يَشَاۤءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗۤ | خوراك ورکړي ،کهٔ اُوغواړي اللّٰه پاك |
| اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ | سبښ سکاريږي ــ کمراهـــ کس، تول کسان |
| وَيَقُوْلُوْنَ | اوهغوی(په جمع )ټول کوی بیان |
| مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ | دا وعده کله ده ،ئې کهٔ صادقان |
| مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً | انتظار کوی بس دُوی دَتریخ بیان |
| تَاْخُذُهُمْ | دُوی نیوی به (هغې وخت کښې ) هغه حال |
| وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ | په جکړه چې کوی خپلو کښې(وال ) |
| فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ تَوْصِيَةً | نو طاقت به په کښې نه دَوصیت وی |
| وَّلَاۤ اِلٰۤى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ | او نهٔ کورته ئې دَتلوبه څه طاقت وی |
| وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ | او شپیلې کښې چې پُو کې شی( په اَمر) |
| فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ | نو ټول دوی به له قبرونو شی (بهر) |
| اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ | ټول په جمع به خپل رب ته شی روان |
| قَالُوْا يٰوَيْلَنَا | وائی دُوی به هائې افسوس !زمونږ نقصان |
| مَنْۢ بَعَثَنَا | اُوچت کړی پاسولی یُو مونږ چا |
| مِنْ مَّرْقَدِنَا (وقف لازم) | دَ قبرونو نه ئې مونږ کړو را جُدا |
| هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ | داوعده ، هغې چې کړې وه رحمٰن |
| وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ | او رښتیا دَمُرسلانو وو بیان |
| اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً | یو زُور داره چغه وی به داسې بس |
| فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ | بیا زمونږ سره به جمع شی هرکس |
| فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ | پس نن ورځ به په یوکس نهٔ ظلم کیږی |
| شَيْـًٔا | یوذرّه خسوسکې(نه به پاتې کیږی) |
| وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ | او بدله به وی بس ستاسو دَاعمال |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ | خاوندان به دَ جنت لری نن حال |
| فِیْ شُغُلٍ فٰکِهُوْنَ ● | ښه خوشحاله به خبرې کوی (نورې) |
| هُمْ وَ أَزْوٰجُهُمْ فِیْ ظِلٰلٍ | دُوی اوښځو ته ددُوی به وی ښه سیورې |
| عَلَى الْأَرَآئِكِ مُتَّكِــُٔوْنَ ● | په تختونو به ئې دَ ډې وی وهلے |
| لَهُمْ فِیْهَا فٰكِهَةٌ | دُوی دَپاره په کښې شته میوې(نیولے |
| وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ● | اوددُوی دَپاره شته ددُوی طلب |
| سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ● | سلام وائی مهربان پالونکې (ربّ) |
| وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ● | (تول) جُداشے چې ئې څومره مجرمان |
| أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ | وُلے نهٔ وه عهد درسره ( دا شان) |
| يٰبَنِیْٓ اٰدَمَ أَنْ لَّا تَعْبُدُوا | دَادم اولاده ! مهٔ کړئ عبادت |
| الشَّيْطٰنَ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ | دَشیطان دښمن دے ستاسو (هرساعت) |
| مُّبِيْنٌ ● وَّأَنِ اعْبُدُوْنِیْ | ښهٔ ښکاره ★اوزما اُوکړئ عبادت |
| هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ● | نیعه لار ده برابر دا (هرساعت) |
| وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا | اوډیر خلق ئې کړل تاسو کښې ګُمراه |
| أَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ● | وُلے تاسو کښې څه عقل نه وو بیا؟ |
| هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ | دادوزخ دے(جهنم )داسې مقام |
| كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ● | وعده شوې درسره پوره تمام |
| اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ● | وَرداخل شئ نن ، چې کُولومُو انکار |
| اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى أَفْوَاهِهِمْ | نن به بندې کړو دَ دوی خُلې دګفتار |
| وَتُكَلِّمُنَآ | او کوی به مونږ سره کلام بیان |
| أَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ | خپې او لاس به وی په دوی (تول) ګواهان |
| بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ● | هغه کړی چې ئې هرڅنګه ووکار |
| وَلَوْ نَشَآءُ | او کهٔ مونږه چرې جوړ شُو ،طلبګار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| لَطَمَسْنَا عَلٰى اَعْيُنِهِمْ | مونږ به ختمې ئې کړو سترګې دَنظر |
| فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ | بیادې لارېسې دُوی ګرځی برابر |
| فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ● | نو دُوی چرته کښې شی(داساعت)لیدلے |
| وَلَوْ نَشَآءُ | او کهٔ چرته طلبګار وے مونږ غوستلے |
| لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ | په خپل ځائې به ئې شکلونه کړو بدل |
| فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا | نو طاقت به ئې شی ختم د مزل |
| وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ● | او نهٔ وروستو واپس تلې شی(له خپل در) |
| وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ | اودَچا چې غواړو مونږه ډیر عمر |
| نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ | پیدائش ته ئې واپس کړو برابر |
| اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ● | وُلے نهٔ لری دُوی پوهه څه (نظر) |
| وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ | او مونږ شعر ورته نهٔ دے څه ښودلې |
| وَمَا يَنْۢبَغِىْ لَهٗ | اونه دُوی سره هغه ښکاری څه ښکلې |
| اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ● | صرف صرف نصیحت ښکاره قرآن دے |
| لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا | چې اګاه کړی هر ژوندی له ( دا ئې شان دے) |
| وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ● | اوچې حق له کړی ثابت په منکرانو |
| اَوَلَمْ يَرَوْا | وُلے نه وُوینی (تهوله دَانسانانو) |
| اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ | په خپل لا سو مونږه دُوی له کړل پیدا |
| اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ● | ډیر څاروی چې مالکان دی ددې بیا |
| وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ | او ددې نه مونږ کړل دُوی له تابعدار |
| فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ● | څه سورلې دی ، دخوراك څنې پکار |
| وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ | او شته دُوی له په کښې ښې فائدې اوڅکل |
| اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ● | وُلے نهٔ اُوباسی شکر(دَربّ خپل) |
| وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً | او نیولې دُوی الله نه اِله بل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ● | شاید دوی له مددګار به شی (یو ځل) |
| لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ | دوی خو نه لری طاقت ئې دَنصرت |
| وَهُمْ لَهُمْ | اوهغوی دی ټول هغه له(هرساعت) |
| جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ● | لښکر دارنګې ورتلونکې (چې هر دم) |
| لَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ وقف لازم | دهغوی خبره تا نهٔ کړی په غم |
| اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ | هغوی څهٔ چې پټوی يُو خبردار |
| وَمَا يُعْلِنُوْنَ ● | اوهغه هرڅه ښکاره چې وی په جار |
| اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ | وُلے نه ساتی نظر ورته انسان |
| اَنَّا خَلَقْنٰهُ | مونږ هغه دې پیداکړې(په ښه شان) |
| مِنْ نُّطْفَةٍ | دَنُطفې (یوې قطرې)نه (برابر) |
| فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ● | بیاښکاره کوی جګړه سراسر |
| وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا | اوهغه بیانوی مونږ له مثال |
| وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ | پیدائش خپل ترینه هیر دے (دغه حال) |
| قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ | څوك هډوکی به ژوندی کړی ،کری وینا |
| وَهِيَ رَمِيْمٌ ● | ښې وړې وړې ذرې وی هغه بیا |
| قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ | هم هغه به ژوندی کړی ،کره بیان |
| اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ | چې اول ئې پیداکړې وو،(داشان) |
| وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ ● | اوهغه دَهر جوړولو ښهٔ خبر |
| الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ | هغه جوړ کړو تاسوله (ښه برابر) |
| مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا | د شنې ونې نه (پیدا ئې کړلو)اُور |
| فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ● | بلوې ټول له هغې نه تاسو(نُور) |
| اَوَلَيْسَ الَّذِيْ | وُلے نه دې(دغه رنګې) هغه ذات |
| خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ | پیداکړې ئې ده زمکه سمٰوٰت |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنۡ يَّخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ | بښه قادر دے چې پيدا کړی دغه شان |
| بَلٰى | بلکه ذات ئې دے قادر (په هر بيان) |
| وَهُوَ الۡخَلّٰقُ الۡعَلِيۡمُ ● | او هغه دې لوئې خالق بښه خبردار |
| اِنَّمَآ اَمۡرُهٗۤ اِذَآ اَرَادَ شَيۡـًٔا | بيشك اُغواړی چې کله څه يَو کار |
| اَنۡ يَّقُوۡلَ لَهٗ كُنۡ | ورته اُوکړی چې دَ اُوشه بس وينا |
| فَيَكُوۡنُ ● | نو هغه شی راموجود (په دې دُنيا) |
| فَسُبۡحٰنَ الَّذِىۡ | نو پاکی، دهغې ذات شوه (هرساعت) |
| بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ | چې ئې لاس کښې (بادشاهت) دے حکومت |
| كُلِّ شَىۡءٍ | په هر څيز باندې (هغه لری قدرت) |
| وَّاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ● | ورته تلل دی (له دُنيا نه يوساعت) |

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**